# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

پنځلسم کال، ۱۷۳ ګڼه د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ میاشت







## د افغانۍ د ارزښت ساتنې په اړه د افغانستان بانک مطبوعاتي کنفرانس



# افغانی، زمونږ د ویاړ،
# اقتدار او ملي هویت نښه ده!



## د دې ګڼې مطالب


د امریکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتنې په اړه...

نشست با نماینده گان اتحادیه صرافان

د افغانستان بانک د سرپرست پر مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له...

دیدار سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با سفیر ترکیه در کابل

د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه

د بشري مرستو کڅوړې د هېواد اسعاري اړتیاوې تر یوه حده پوره کوي

حمایت از تولیدات داخلی و چگونگی نقش آن در رشد اقتصادی کشور

د پولي واحد ارزښت ټاکل او د تبادلې نرخ

صندوق بین المللی پول چگونه تأسیس شد

د افغانۍ ترویج د هغه ثبات ساتي او ارزښت یې لوړوي

معلومات مختصر در مورد بانک جهانی

صادراتي وده اقتصادي څرخ په حرکت را ولي

اقتصادي خبرونه

نقش معادن در اقتصاد کشور

د ټاپي پروژه؛اقتصادي ګټې او فرصتونه

مختصری پیرامون علم اقتصاد

مالي برنامه ریزۍ ته لنډه کتنه

سپما



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول:

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحۀ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارۀ ثبت: ۶۵۸




مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



www.facebook.com/AFGCentralbank   twitter.com/AFGCentralbank   Da Afghanistan Bank-Youtube

# د امریکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتنې په اړه د افغانستان بانک مطبوعاتي کنفرانس






۱۴۰۰ د لیندۍ ۲۳ مه – د افغانستان بانک د امریکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتنې په اړه د ریاست الوزرا د دویم مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي تر مشرۍ لاندې مطبوعاتي کنفرانس جوړ کړ.

په دې مطبوعاتي کنفرانس کې ښاغلي حنفي د بانکي نظام د وضعیت په اړه او د اقتصاد پر څرنګوالي هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

ښاغلي حنفي یادونه وکړه چې نن ورځ یې په دې اړه د مالیې د ښاغلي وزیر، اطلاعاتو او فرهنګ د ښاغلي نشراتي مرستیال، د صنعت او سوداګرۍ، کورنیو چارو، دفاع، کرنې او اوبولګولو وزارتونو، او د بریښنا او استخباراتو ریاستونو له باصلاحیته استازو سره په ګډه د صرافانو د ټولنې له استازو سره غونډې لرلې چې ښې پایلې یې درلودې.

د ریاست الوزرا مرستیال یادونه وکړه چې صرافان د هېواد د اقتصادي وضعیت د پراختیا او خلکو د کارونو د پراختیا په برخه کې مثبت رول لوبوي، خو یو شمېر ناوړه ګټه اخېستونکي کړۍ خپلو شخصي منافعو ته پر ملي ګټو لومړیتوب ورکوي. د نوموړي په خبره زموږ د نن ورځې غونډې په همدې تړاو وې، څو وکولای شو د یادو مغرضو کړیو د فعالیتونو مخنیوي لپاره لاس په کار شو او له اړوندو ادارو سره یو ځای له قاچاق څخه مخنیوی وکړو او قاچاق وړونکو ته سزا ورکړو.

ښاغلي حنفي د خپلو خبرو په بله برخه کې یادونه وکړه چې د افغانستان بانک، د مالیې له محترم وزارت او له اقتصادي کمېسیون سره په ګډه همکارۍ د یوې داسې کړنلارې پر رامنځته کولو کار کوي چې پر پلي کېدو سره به یې د افغانۍ د ارزښت په ساتنه کې د امریکايي ډالرو پر وړاندې مرسته وکړي.

نوموړي افغانستان یو خپلواک او لرغونی تاریخ لرونکی هېواد یاد کړ او زیاته یې کړه چې افغانستان د ملي پولي واحد لرونکی دی چې د افغانانو د ملي هویت څرګندونه کوي او په کار ده چې ټول هېوادوال په خپلو راکړو او ورکړو کې خپل ملي مسئولیت ادا کړي. نوموړي یادونه وکړه چې په ټول هېواد کې په افغانیو راکړ ورکړه جبري ده.

ښاغلي حنفي دا هم وویل، په راکړو او ورکړو کې د افغانیو د ترویج په برخه کې ټولنیزې رسنۍ، عالمان، والیان، متنفذین مهم رول لوبولی شي. اقتصادي وضعیت مخ په ښه کېدو دی، سوداګریز بانکونه د دې توان لري چې د ملت اړتیاوې پوره کړي، کافي ډالر شته، سیاسي وضعیت ورځ تر بلې ښه کېږي، فساد صفر شوی او د صرافانو د احتکار او پیسو قاچاق مخه نیول کېږي.

د ریاست الوزرا ښاغلي مرستیال د هېوادوالو د ډاډ لپاره یادونه وکړه چې د افغانستان د اسلامي امارت چارواکي د اقتصادي پرمختګ او انکشافي فعالیتونو د په حرکت راوستلو لپاره سیمه‌ایزې ناستې د اقتصادي یو ځایوالي په موخه تر سره شوې چې له کبله یې د سوداګرۍ، ترانزیت، او معادنو په برخه کې د سیمې او نړۍ له یو شمېر هېوادونو سره اړیکې مخ په پراخېدو دي.

نوموړي د افغانستان معادنو، ټاپ او ټاپي پروژو د پلي کېدو او زیات شمېر نورو لویو اقتصادي پروژو په برخه کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو له لوري د پانګې اچونې په برخه کې د علاقمندۍ یادونه وکړه.

هغه زیاته کړه چې د دې ډول پروژو پر پلي کېدو سره به د هېواد اسعاري اړتیاوې پوره، صادرات به زیات شي او په ټول کې به اقتصادي پرمختګ رامنځته شي.

# نشست با نماینده گان اتحادیه صرافان



۱۶ قوس ۱۴۰۰ نشستی به ریاست محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک با نماینده گان اتحادیه صرافان برگزار گردید.

در این نشست در زمینه ثبات و حفظ نرخ مبادله افغانی، نظارت بر فعالیت های صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی و یک سلسله موضوعات مرتبط دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

طی این نشست معاونین اول و دوم د افغانستان بانک هریک به نوبه خویش ضمن تعهد به صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی برای فراهم آوری تسهیلات لازم و رسیده گی به مشکلات آنها، اظهار داشتند که از هر طریق ممکن تلاش خواهند نمود تا نرخ مبادله ای افغانی در برابر اسعار را حفظ نمایند. هیئت رهبری د افغانستان بانک از اتحادیه صرافان نیز خواستند تا در این زمینه با د افغانستان بانک همکار باشند.

نماینده گان اشتراک کننده از اتحادیه صرافان در این نشست نیز تعهد خود را در قبال حفظ و ثبات پول افغانی به د افغانستان بانک داده و گفتند که مسئولیت خویش را در این زمینه ادا خواهیم کرد.

قابل یادآوریست که در این نشست بر علاوه معاون اول د افغانستان بانک، معاون دوم محترم عبدالقدیر احمد و تعدادی از آمرین شعبات مختلف د افغانستان بانک نیز اشتراک نموده بودند.

# د افغانستان بانک د سرپرست پر مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه



۱۴۰۰ د لیندۍ ۲۷ مه – د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلي حاجي ادریس په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د سوداګریزو بانکونو له استازو سره پر بېلابېلو بانکي موضوعګانو خبرې وشوې او د نظرونو تبادله تر سره شوه. دافغانستان بانک سرپرست رئیس د سوداګریزو بانکونو له استازو وغوښتل چې د خلکو لپاره غوره بانکي خدمتونه وړاندې کړي او ټینګار یې وکړ چې د مالي نظام د ټینګښت او اغیزناکتیا لپاره خپل ټول فعالیتونه د افغانستان بانک د قوانینو، مقرراتو او متحدالمالونو پر بنسټ برابر کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا هم ګډون کړی ؤ او د افغانستان بانک د سرپرست رئیس د خبرو پر تائید یې یادونه وکړه چې د افغانستان بانک د خپلو خلکو لپاره د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ژمن دی.



# دیدار سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با سفیر ترکیه در کابل

۲۷ قوس ۱۴۰۰ – محترم حاجی ادریس سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با محترم جهاد ارگین سفیر ترکیه در کابل دیدارکرد و در مورد موضوعات مختلف مالی و بانکی بحث و تبادل نظر نمود.

محترم جهاد ارگین سفیر کشور ترکیه در کابل در این دیدار خاطرنشان کرد که این کشور در هفته گذشته سه بسته کمک های بشردوستانه را در مناطق مختلف افغانستان توزیع کرده و به کمک های بشردوستانه خود ادامه خواهد داد.

در این جلسه سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از کمک های کشور ترکیه تشکری نموده، خاطرنشان کرد که د افغانستان بانک با در نظرداشت وضعیت کنونی تلاش خواهد کرد تا تسهیلات لازم بانکی را جهت رسانیدن کمک های بشردوستانه کشور ترکیه فراهم نمایند، تا افغانها از فقر و تنگدستی نجات یابد.

# د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه



۱۴۰۰ د لیندۍ ۶ مه – د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په مشرۍ د افغانستان د بانکونو ټولنې او سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د پیسو پر لیږد، د مبادلې نرخ، نقدینګۍ، د پېرودنکو پر شکایتونو او یو شمېر نورو اړوندو بانکي موضوعګانې خبرې وشوې. د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په یاده غونډه کې د سوداګریزو بانکونو له استازو وغوښتل چې د پېرودونکو لپاره د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي.

په یاده غونډه کې د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د سوداګریزو بانکونو استازو د ذکر شویو موضوعګانو په اړه خبرې وکړې او په دې برخه کې د نظرونو تبادله تر سره شوه. باید وویل شي چې د دې غونډې په لړ کې د افغانستان بانک د بانکي چارو د څارنې آمر ښاغلي عبدالرحمن قانت غرب زون ته د خپل سفر راپور او موندنې د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل او د سوداګریزو بانکونو استازو ته یې په بانکي برخه کې د ستونزو د حل په موخه اړینې لارښوونې وکړې.

د یادونې وړ ده چې په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال سربېره د دې بانک دویم مرستیال ښاغلي مولوي عبدالقدیر احمد، د افغانستان د بانکونو د ټولنې مشرتابه پلاوي او د سوداګزیزو بانکونو استازو په حضوري او آنلاین ډول ګډون کړی وو.



# د بشري مرستو کڅوړې د هېواد اسعاري اړتياوې تر يوه حده پوره کوي

افغانستان ته د بشري مرستو په لړ کې د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ په میاشت کې د دې مرستو پنځه کڅوړې چې څه باندې سل میلیونه امریکایي ډالر دي افغانستان ته را رسېدلې دي. د دې کڅوړو د لېږد زمینه له هوايي ډګره تر د افغانستان نړیوال بانک (AIB) پورې د افغانستان بانک لخوا برابره شوې وه.

د نړیوالو هېوادونو او بنسټونو له لوري دا ډول مرستې کولای شي د هېواد اسعاري اړتیاوې تر یوه حده پوره کړي او په ټول کې د اقتصادي رغښت په برخه کې مهم رول تر سره کړي.

د افغانستان بانک تل هڅه کوي، څو د هېوادوالو د بېوزلۍ او ناچارۍ د مخنیوي لپاره اصولي او آسانه لارې وکاروي او له دې لارې هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د هېواد د بانکي نظام وضعیت به ښه او اسعاري اړتیاوې به ژر تر ژره حل شي.

د افغانستان بانک ژمن دی چې له ټولو هېوادونو په ځانګړې ډول له ټولو مالي او بانکي بنسټونو سره د نړیوالو قوانینو او مقرراتو په رڼا کې غوره اړیکې ولري.

# حمایت از تولیدات داخلی و چگونگی نقش آن در رشد اقتصادی کشور



جهش تولید از صنایع کوچک و متوسط آغاز شده، آهسته آهسته به صنایع بزرگ می انجامد. تولید، اقتصاد کشور ما را از شرایط ناگوار نجات داده و همه تهدیدات اقتصادی را به یک فُرصت تبدیل می کند. تولید ظرفیت های نا شناخته را به منصهٔ ظهور رسانیده و بهترین ضمانت برای ایجاد شغل پایدار بوده و نا رضایتی های جامعه را که عموماً از بخش بیکاری نشآت می گیرد از بین می برد.

هرچه افراد جامعه، بخصوص قشر تحصیل یافته و جوان دارای شغل مناسب و سطح زندگی بلندی باشند رضایت بیشتری در میان آنان بوجود آمده و توانایی بر سر پا شدن اقتصاد کشور بیشتر می گردد.بارویکار آمدن قشر تحصیلکرده، شرکت های دانش بنیان کار آفرین می توانند نقش عمدهٔ را در آبادانی کشور ایفاء نمایند.

شرکت های دانش بنیان می توانند نتایج تحقیق خود را در قالب تولیدات داخلی به ثمر برسانند و نتیجهٔ فعالیت شان تبدیل به محصول و کالای داخلی گرداند. از این طریق اعتماد به نفس جامعه بالا رفته، در نتیجه تلاش هر کس برای آبادانی کشور بیشتر گردیده و حتی در بخش وسیع تر منجر به صادرات خواهد شد.

تولید پشتیبان صادرات و ایجاد شغل بوده و در این عرصه حتی تمام ادارات بشمول بانکها حامی تولیدات و صادرات میگردند. تولید علاوه بر رونق اقتصادی، معضل بیکاری را کاهش و امنیت اجتماعی را نیز تأمین می نماید. در این راستا هرچه جلوی

»

قاچاق گرفته شود فُرصت های شغلی بیشتر برای تولیدکنندگان فراهم می شود.

طرح شتاب شکوفایی تولید و اشتغال برتری، بخاطر زمینه سازی برای تبدیل ایده به طرح و تبدیل طرح به محصول، اجرایی کردن ایده ها، شناسایی صاحبان ایده های نو و معرفی آنها به شرکت های سرمایه گذار، جهت حمایت مالی، یک امر ضروری پنداشته می شود.

ایده های نو در بخش های زراعت، شامل گیاهان دارویی، شیوۀ نوین انتقال آب، بسته بندی محصولات روستایی، میراث فرهنگی نظیر بومی سازی صنایع دستی، رویکار آمده و بالای هر یک آنها سرمایه گذاری شوند.

**راه های رسیدن به جهش تولید**

تأکید بر کار های عمومی یا همه انواع کار های اقتصادی، در مقابل مفت خوری و مفت جویی، تکمیل کار ها، افزایش کیفیت کار توسط کارگر ماهر و نو آور، ایجاد احساس مسئولیت در برابر سهل انگاری در کار ها، شناخت وظایف کار فرما و کارگر، دستمزد عادلانه و پرداخت آن بدون تأخیر، امنیت شغلی، بیمه، آموزش، تأکید بیشتر روی توسعه و تولید، تحقق سیستم ایمنی و بدن کاگر، ایجاد اعتماد به نفس و احساس غرور ملی در بخش تولید بهتر، افزایش صادرات، حذف مقررات دست و پاگیر، مبارزه با قاچاق و واردات بی رویه، مبارزه با فساد اداری، معافیت مالیات در موارد ضروری، حمایت از تولید داخلی، فراهم کردن میدان کار برای جوانان مبتکر، مشارکت مردم در جهش تولید، استفاده از ظرفیت و استعداد های گوناگون، آماده کردن میدان جهش تولید برای صاحبان فکر، تولید کننده و سرمایه گذار، نقدینگی، تشکیل دادگاه های تجارتی جهت رفع اختلافات اقتصادی، تأکید بر وارد نشدن محصولاتی که در کشور تولید می گردند. ممانعت واردات بی رویه، بالا بردن کیفیت در کنار کمیت، تمرکز روی محصولات زراعتی نظیر گندم، گیاهان دارویی، دانه های روغن دارد، پرندگان ، ماهی، تمرکز روی زیر ساخت ها مانند حمل و نقل جاده ای و ریلی، توجه به ساختن قطعات ماشین آلات مختلف، تمرکز برمعادن، تمرکز بر تولید زنجیرۀ لوازم خانگی، گسترش روحیۀ مردم جهت همکاری بیشتر در عرصه های مختلف تولیدی از عوامل تاثیر گذاری اند که می تواند باعث رونق اقتصادی کشور گردد.

راه های جهش تولید در افغانستان عبارت از کنترول نوسانات ارز، که موجودیت آن سبب بالا رفتن مصارف تولید، افزایش تمام شدۀ محصولات، کاهش رقابت پذیری تولید کنندگان داخلی در برابر رقبای منطقه و خارجی می شود. بناءً یکی از ابزار های قدرتمند برای حمایت از تولید، با ثبات سازی بازار ارز و جلو گیری از انحرافات در این عرصه است.

بخش دیگر جهش تولید کشور مستلزم به کار گیری کلیه امکانات و تجهیزات موجود، همدلی و تلاش مجدانۀ عوامل ذیربط به منظور رفع کاستی ها است، یکی دیگر از عامل عمدۀ نقاط آسیب پذیر جهش تولید در کشور، ورود بی رویۀ قاچاق در کشور است، که عدم رفع این معضل، مشکلات زیادی را برای بخش های تولیدی ایجاد می نماید.

تسهیل در بخش های گمرکی در مصارف واردات کالا های واسطه ای که بخش های تولید را تشکیل می دهد، یکی از رهبرد های اصلی کمک به تولیدکنندگان محسوب می گردد. همچنان، ثبات قوانین، مقررات و محیط مناسب کسب و کار برای تولیدکنندگان، بخاطر جهش و رونق تولید خیلی ضروری پنداشته می شود.

عبدالحفیظ شاهین


**منابع:**

گزارش تجارت افغانستان طی سال ۱۳۹۹

https://moci.gov.af › sites › default › files

توسعه سکتور خصوصی و پالیسی های کار آفرینی در افغانستان

https://www.oecd.org › eurasia › central-asia

افغانستان در تولید۵۶ نوع کالای مصرفی به خودکفایی رسیده / تاریخ نشر / ۵/دلو /۱۳۹۹

https://www.bbc.com › persian › afg



# د پولي واحد ارزښت ټاکل او د تبادلې نرخ

په نړۍ کې د پولي واحد ارزښت له دوو لارو ټاکل کيږي چې يو يې د پولي واحد کورنی ارزښت دی او بل يې د پولي واحد بهرنی ارزښت، د پولي واحد ارزښت د بهرنيو اسعارو پر وړاندې هم بېلابيلې لارې يا سيستمونه لري چې د نړۍ په هېوادونو کې دا نرخونه هم د بېلابېلو نظامونو پر بنسټ ټاکل کيږي.

**د پولي واحد کورنی ارزښت:**

دا چې په هېواد کې د يو پولي واحد په مقابل کې څومره جنس او خدمتونه تر لاسه کيږي دې ته د پولي واحد کورنی يا حقيقي ارزښت وايي يا هم د عرضه شويو پيسو، توکو او خدمتونو تر منځ تعادل ته د پولي واحد کورنی ارزښت وايي. کله چې د عرضه شويو پيسو، جنس او خدمتونو تر منځ تعادل له منځه لاړ شي، نو پولي واحد ثبات له لاسه ورکوي. د توکو او پيسو تر منځ اړيکه معکوسا متناسبه ده يعنې دا چې که په بازار کې پيسې زياتيږي له دې سره يې ارزښت را ټيټيږي او د توکو بيې ور سره لوړيږي.

**د پولي واحد بهرنی ارزښت:**

دا چې د هېواد د يو پولي واحد په مقابل کې څومره اسعار تر لاسه کيږي دې ته د پولي واحد بهرنی ارزښت وايي او دا د يو هېواد د تادياتو پر بيلانس پورې اړه لري.

د ادواينو په بيلانس کې د نړۍ له هېوادونو سره د يو هېواد ټولې اقتصادي راکړې او ورکړې چې په يو ټاکلي وخت کې يې تر سره کوي په منظم ډول ثبتيږي. هر څومره چې د سوداګرۍ د بيلانس کسر زيات وي، نو د پولي واحد ارزښت هم ټيټ وي.

**د تبادلې د نرخ سيستمونه (Exchange Rate Systems):**

په ټول کې د تبادلې نرخ د عرضې او

»

تقاضا له مخې ټاکل کېږي، خو دولتونه کولای شي له بېلابېلو لارو د تبادلې نرخ باندې اغېز ولري او د اسعارو په بازارونو کې د دولت د ښکیلتیا کچه او څرنګوالی د تبادلې د نرخونو د سیسټمونو پر بنسټ ټاکل کېږي.

**د تبادلې د ثابت نرخ نظام (Fixed Exchange Rate System):**

د تبادلې په ثابت نرخ نظام کې هېوادونه د خپلې ټاکلې تګلارې پر بنسټ د دوو اسعارو تر منځ د تبادلې نرخ ثابت ټاکي او ډېرې داسې لارې شتون لري چې دا هېوادونه د خپل پولي واحد نرخ پرې ثابت ساتي. دا ډول نظام د هغو هېوادونو له لوري ټاکل کېږي چې د اسعارو غني زیرمې ولري او د پولي واحد د مدیریت توان یې پر یو اسعار او یا د اسعارو د ځانګړې ډلبندۍ پر بنسټ وي.

**د تبادلې بدلېدونکي نرخ نظام (Floating Exchange Rate System):**

پدې نظام کې د اسعارو نرخ د عرضې او تقاضا پر بنسټ د بازار د میکانیزم له مخې ټاکل کېږي. پدې نظام کې هر وخت ددې امکان شته چې د اسعارو نرخ بدلون ومومي، ځکه چې د یو هېواد د پولي واحد ارزښت نسبت نورو اسعارو ته د بازار د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کېږي.

**د تبادلې مدیریت شوی بدلېدونکی نرخ نظام (Managed Floating Exchange Rate System):**

پدې نظام کې هم د اسعارو نرخ د بازار د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کېږي، خو د هېواد مرکزي بانک او دولتونه د نرخ په ټاکلو کې مداخله کوي او د اسعارو نرخ د هېواد د اقتصادي سیاست د اړتیا له مخې تنظیموي.

د افغانستان بانک د قانون د ۶۹ مادې په رڼا کې د مبادلې نرخ د پالیسی طرح، تر لاس لاندې نیول او اجراء کول د افغانستان بانک له دندو څخه ګڼل کیږي.

د افغانستان بانک د نړۍ په کچه د مبادلې نرخ د اتو رژیمونو له ډلې څخه د مدیریت شوي متحول مبادلې نرخ (Managed Floating Exchange Rate System) له رژیم څخه کار اخلي. د مبادلې نرخ د دې اړانې پر بنسټ، د مبادلې نرخ په بازار کې د تقاضا او عرضې د عواملو له لارې ټاکل کیږي.

د مبادلې د نرخ دا رژیم د اقتصادي شرایطو، د ادائینو د بیلانس(صادراتو او وارداتو) پر بنسټ او د هېواد د اقتصاد د پرانیستې درجې( د اسعارو د داخلي او بیروني جریانونو) په پام کې نیولو سره ټاکل شوی دی. د دې کاري اړانې پر بنسټ د افغانستان بانک د مبادلې نرخ تر هدف لاندې نیسي.

د دې تر څنګ، په پانګه اچوونکو، لګښت کوونکو او د اقتصادي استازو په نورو تمویل کوونکو او همدا ډول د کورنیو بیو په ټولیزې کچې باندې د مبادلې نرخ د نوسانونو د منفي اغیزو په پام کې نیولو سره د دې بانک د مبادلې د نرخ بهیرڅارلی او هڅه کوي چې د پولي سیاست په پانګه اچوونو سره د مبادلې د نرخ د شدیده نوسانونو مخه ونیسي.

باید وویل شي له عرضې او تقاضا سربېره یو شمېر نور عوامل هم شته چې د پولي واحد یا اسعارو پر بیو ژور اغیز لري، دا فکتورنه اقتصادي وضعیت، د صادراتو او وارداتو حجم، بانکي سیاست کې بدلون، هېواد ته د پیسو ډېر راتلل یا وتل، کورنی یا بهرنی سیاست، د ادائینو بیلانس، اقتصادي سیاستونه او نور هغه څه دي چې کولای شي د اسعارو پر بیو ژور اغیز ولري.•

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:

د مبادلې د نرخ پالیسي (کلنی)
https://www.dab.gov.af/ps/node/1893
په افغانیو کې دایمی ثبات څنګه رامنځته کړو؟/ محمد داوود نیازی
په افغانیو کې دایمی ثبات څنګه رامنځته کړو؟ – روزنامه هیواد ((dailies.gov.af
Exchange Rate Systems
https://saylordotorg.github.io/text_principles-of-economics-v2.0/s33-03-exchange-rate-systems.html




# صندوق بین المللی پول چگونه تأسیس شد

در اواخر جنگ جهانی دوم، بخاطر عدم گسترش تجارت بین المللی و نبود نظام مالی، مشکلات زیادی وجود داشت. در این عرصه مذاکرات متعددی میان کشور های مانند امریکا، انگلستان، فرانسه و سایر کشور ها صورت گرفت، تا اینکه در سال ۱۹۳۰ آنها موفق به تصمیم جلو گیری از بحران مالی و تجاری شدند.

بار دیگر، نمایندگان ۴۴ کشور جهان، در اول جنوری سال ۱۹۴۵ میلادی در شهر برتن وودز نیوهمپشایر امریکا تشکیل جلسه دادند، در این جلسه علاوه بر سایر موضوعات، موضوع صندوق بین المللی در دستور کار شان قرار گرفت. در این جلسه روی نرخ ثابت و قابلیت تبدیل دالر به عنوان ارز قابل ذخیره بحث شد.

در کمیسیون های بعدی هم موضوع صندوق بین المللی پول مورد بر رسی قرار گرفت، در پی آن نظام نوین بین المللی ارزی وجود آمد در آن وقت یک دالر امریکایی معادل به ۰.۸۸۸۶۷۱ گرام طلا بود.

بعد از جنگ دوم جهانی دالر نه تنها ارز مسلط و معیار ارز سنجش در دیگر ارز ها در رابطه به یک گرام طلای خالص بود، بلکه تبدیل به ارز قابل انتقال و قابل ذخیره نیز گردید، یعنی نرخ غیر مستقیم، نسبت ثابت بین ارزها، کشور های عضو را متعهد می ساخت که نرخ ارز خود را، در مقابل دالر بیش از یک درصد معینی تغییر ندهند.

تغییرات نرخ ارز کشور ها خارج از معیار های تثبیت شده تنها در صورت وجود عدم تعادل اساسی در بیلانس پرداخت خارجی آنها و از طریق تصویب صندوق بین المللی پول امکان پذیر بود. در چنین وضعیت، بعد از جنگ جهانی دوم، دالر نه تنها ارز مسلط و معیار ارزش در برابر دیگر ارز ها در برابر با یک گرام طلای خالص بود، بلکه یکی از قوی ترین ارز کشور های غربی شده، تبدیل به ارز قابل انتقال، ذخیره و در نهایت به عنوان وسیلهٔ پرداخت بین المللی نیز گردید.

»

بعد از سپری شدن جنگ جهانی دوم، دالر در کشور های غربی به عنوان وسیلهٔ پرداخت بین المللی پذیرفته شد. از طرف دیگر دالر قابلیت تبدیل کردن به طلا را پیدا کرد، بانک مرکزی امریکا هر مقدار دالر را که به طلا تبدیل می کرد، به عنوان ارز قابل ذخیره پذیرفته می شد.

در این عرصه، کشور های عضو موظف بودند تا رابطه بین واحد پولی داخلی خود و دالر را در یک محدودهٔ معیین وثابت نگهدارند. از همین سبب بود که مشکلاتی در رابطه به نرخ تبدیل ارز و بیلانس پرداخت های خارجی برای امریکا به میان نمی آمد.

صندوق بین المللی پول، از زمان تأسیس اش تا حال از نظر تشکیلات و وظایف، گسترش قابل توجهی یافته، اساس نامهٔ این صندوق، از طرف بانک های مرکزی کشور های عضو چندین بار مورد تجدید نظر واقع شده و تغییراتی در آن رو نما گردید و تکمیل شده است.

در گذشته ها، طلا به عنوان واحد سنجش و واحد ذخیرهٔ دولت ها بوده و زمانیکه هر اونس طلا در حدود ۳۵ دالر بود، این امر، نقش مهمی را در گسترش فعالیت های صندوق بین المللی پول ایفاء نموده است.

در سال ۱۹۶۰ میلادی، قیمت بازار آزاد طلا، بیشتر از قیمت رسمی آن افزایش یافت، در آن وقت هشت بانک مرکزی کشور های عضو صندوق بین المللی پول طوری به موافقه رسیدند که این دو قیمت را به نحوی با هم نزدیک سازند. این وضعیت بالآخره در ۱۷ مارچ ۱۹۶۸ میلادی، به افزایش موج سفته بازی طلا مبدل شد.

از آن زمان تا حال، طلا در مجاورت قیمت رسمی خود دارای قیمت آزاد نیز می باشدکه قیمت آن بر اساس عرضه و تقاضای در بازار های بین المللی تعیین می گردد.

تعداد اعضای صندوق بین المللی پول در ابتدأ ۴۴ کشور بود، حال به بیش از ۱۸۰ کشور افزایش یافته است. ارکان اصلی آن عبارت اند از اعضای هیئت رئیسه، هیئت اجرایی، مدیر عامل و کارمندان آنها می باشند. هیئت رئیسه بالا ترین ارگان صندوق بین المللی پول است، که هر کشور در آن یک نماینده دارد که معمولاً رئیس بانک های مرکزی کشور های عضو در آن شرکت می نمایند.

هیئت رئیسه سال یک مرتبه تشکیل جلسه می دهد، این هیئت به مسائلی چون پذیرش اعضای جدید، تغییر و تعیین سهام اعضاء و اعطای اعتبار رسیدگی می کنند. سایر مسائل این صندوق توسط هیئت مدیره حل و فصل می گردد که متشکل از بیست نفر بوده و از جمله، پنج نفر آن از کشور های انتصاب می گردند که بیشترین سهم را در صندوق بین المللی پول دارند، در این صورت متباقی اعضای آن بر اساس توزیع جغرافیایی برای مدت دوسال انتخاب می گردند.

مدیر عامل این نهاد به عنوان ریاست هیئت مدیره که برای مدت پنج سال توسط هیئت مدیره انتخاب می شود امور داخلی را حل و فصل می نماید. تصامیمی که توسط هیئت ریسه یا هیئت مدیرهٔ صندوق اتخاذ می گردد، بعد از تصویب رای اکثرایت آراء قابل اجراء می باشد.

افغانستان در سال ۱۹۵۵ میلادی، عضویت صندوق بین المللی پول را کسب نمود، این صندوق از سال ۲۰۰۱ به این سو، در راستای باز سازی اقتصادی افغانستان، ارائه مشوره به دولت در مورد پالیسی های اصلاحات اقتصادی، کمک های مالی و تخنیکی می نماید. در مقابل دولت افغانستان هم تعهد نموده تا از کمک های این نهاد، برای تقویت زیر بنا ها، بخش زراعت، مسکن، بهبود سیستم انرژی و آب و توانمند سازی زنان و سایر بخش ها استفاده کند. •

عبدالحفیظ شاهین

---

صندوق بین‌المللی پول | اقتصاد / تاریخ نشر: ۱۹/ ۹/۱۴۰۰ | -10.12.2021۱ | DW / https://www.dw.com › fa-ir

۲-دانلود فایل PDFصندوق بین المللی پول ((IMF – مدیریت / تاریخ نشر: ۱۳ / ۱۰/۱۳۹۵ / https://hamidheidari.blogsky.com

۳-صندوق ببین المللی پول و توسعهٔاقتصادیافغانسه – دمالیېوزارت / ttps://mof.gov.af




# د افغانۍ ترویج د هغه ثبات ساتي او ارزښت يې لوړوي

په هېواد کې د نوي نظام په راتګ سره پر یوه داسې طرحه کار روان دی چې په جوړېدو او پلي کېدو سره به يې په ټول هېواد کې په افغانیو راکړه او ورکړه حتمي شي. دا طرحه کولای شي په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته کړي او د افغانۍ ارزښت لوړ کړي.

د ا.ا.ا په افغانستان کې د بهرنیو پولي واحدونو پر کاروونه بندیز اعلان کړی دی. د ا.ا.ا د ویاند لخوا خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې د اسعارو کاروونه د هېواد پر اقتصاد بد اغېز کوي او په وینایې له دې وروسته به ټوله راکړه ورکړه پر افغانیو کیږي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي چې که څوک له دغه امره سرغړونه وکړي، له قانوني چلند سره به مخ شي. د هېواد په یو شمېر سیمو کې په اسعارو راکړه او ورکړه د دې لامل شوې ده چې په بازارونو کې د افغانیو ځای د نورو هېوادونو پیسې ونیسي او د افغانۍ د ارزښت ټیټېدو ته لار خلاصه کړي. د دې طرحې پر پلي کېدو سره به په هېواد کې د افغانۍ ارزښت لوړ شي او

«




ټولې سوداګريزې راکړې او ورکړې به د هېواد پر خپل پولي واحد يعنې افغانۍ تر سره کېږي، چې دا چاره د هېواد د ملي ګټو د ساتنې لپاره غوره ده.

د هر هېواد ملي پيسې د هغې هېواد د ملي هويت ښکارونه کوي او افغانۍ چې زمونږ د هېواد پولي واحد دی دا زمونږ د ملي هويت څرګندونه کوي، نو پر همدې بنسټ هېوادوال او سوداګر بايد د خپل ملي هويت د لا زياتې پېژنې او ارزښت لوړونې لپاره کار وکړي او په ټولو ورځنيو سوداګريزو چارو کې له همدې پولي واحد کار واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان په بازاراونو کې پر بهرنيو پولي واحدونو داسې حال کې بنديز لګوي، چې ملګرو ملتونو دا وروستيو کې د افغانستان کمزوري اقتصاد نړېدو مخنيوي لپاره له نړيوالو مالي ادارو افغانستان ته د نغدو ډالرو رسولو لارو چارو موندلو غوښتنه کړې.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيوګوتېرش د پيسو له نړيوال صندوق چارواکو غوښتي چې افغانستان ته د نغدو پيسو لېږدولو پر ميکانيزم هوکړه وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت او د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوتېرش د پيسو له نړيوال صندوق دا معقوله غوښتنه په داسې حال کې کېږي چې د افغانستان بازارونه او بانکي سيستم تر بل هر وخت زيات د ډالرو تزريق ته اړتيا لري.

که په روان وضعيت کې په هېواد کې په بهرنيو اسعارو د راکړې او ورکړې مخنيوی وشي او د هېواد بانکي نظام ته ډالر تزريق شي او پر مټ يې له بازارونو افغانۍ را ټولې شي ليرې نه ده چې د افغانيو ارزښت به تر بل هر وخت لوړ شي او دا چاره به د هېواد د اقتصادي رغښت لامل وګرځي.

حسيب الله نوري

سرچينې:

طالبان وايي، له دې وروسته به ټوله راکړه ورکړه په افغانيو کېږي/ ۱۲ لړم۱۴۰۰ – ۳ نومبر ۲۰۲۱

طالبان وايي، له دې وروسته به ټوله راکړه ورکړه په افغانيو کېږي BBC News – پښتو

په کلدارو د راکړې ورکړې بیاځلې زیاتېدل؛ طالبان: افغانی موږ ته ځانګړی ارزښت لري/ ميزان۵، ۱۴۰۰/ خبريال: حبيب الله سراب

په کلدارو د راکړې ورکړې بیاځلې زیاتېدل؛ طالبان: افغانی موږ ته ځانګړی ارزښت لري(etilaatroz.com)




# معلومات مختصر در مورد بانک جهانی

بانک جهانی عبارت از یک مُوسسهٔ مالی بین المللی است که جهت اعطای وام و کمک های مالی به کشور های فقیر پایه گذاری شده است. هدف رسمی فعالیت های بانک جهانی عبارت اند از ریشه کن ساختن فقر و گرسنگی شدید، کاهش مرگ و میر کودکان، بهبود وضعیت سلامت مادران، دست یابی به آموزش، مبارزه با انواع بیماری ها نظیر ایدز، ملاریا، کرونا و سایر بیماری های مهلک، پایداری محیط زیست و توسعهٔ مشارکت جهانی بخاطر توسعه، کمک به باز سازی و توسعهٔ کشور های عضو، همراه با دریافت سرمایه گذاری های تولیدی در بخش های زراعت، جاده سازی، ارتباطات، تشویق سرمایه گذاری های خارجی با شرایط مناسب و کمک به گسترش مبادلات تجاری بین المللی می باشد. همچنان بانک جهانی به دولت های واجد شرایط وام های کم بهره و کمک های مالی ارائه می نماید.

بانک جهانی همراه با صندوق بین المللی پول در دسمبر سال ۱۹۴۴ در اجلاس مالی و پولی سازمان ملل متحد در برتون وودز در نیوهمپشایر تأسیس و در ماه جون سال ۱۹۴۶ افتتاح شد. ساختمان این بانک در شهر واشنگتن دی سی است، ایالات متحده امریکا و انگلستان از جمله قدرتمندترین شرکای بانک جهانی هستند. این بانک برای اولین بار به باز سازی کشور های که در جنگ جهانی دوم ویران شده بودند، کمک کرد.

بانک بین المللی باز سازی و توسعه (IBRD) که معمولاً از آن به عنوان بانک جهانی یاد می گردد، یک مُوسسهٔ مالی بوده که مسئولیت های آن شامل کمک به توسعهٔ کشور های عضو این بانک، تکمیل سرمایه گذاری های خارجی و ترویج رشد بلند مدت در معاملات بین المللی می باشد. همانطوریکه از نام این نهاد

»

معلوم است، این نهاد برخلاف سایر بانکهای توسعه ی منطقه ای که در یک محدودهٔ جغرافیایی خاص فعالیت دارند محدود نمی گردد، بلکه این بانک در سراسر جهان فعالیت می کند. اساسنامه این بانک در دسمبر ۱۹۴۵ میلادی توسط نمایندگان ۲۸ کشور جهان در شهر واشنگتن دی سی امضاء و متعاقباً به اجراء گذاشته شد.

در ابتدأ هدف از ایجاد این بانک، بازسازی خسارات ناشی از جنگ جهانی دوم برای کشور های عضو بود، اما بعد از دههٔ ۱۹۵۰ میلادی، وظیفهٔ این بانک تغییر کرد و توسعه یافت، این بانک برای توسعهٔ سایر کشور ها به اعطای وام های دراز مدت، جهت تطبیق پروژه های عمرانی کمک می کند.

بانک جهانی بیشتر به کشور های عضو خود، طوری کمک می کند که وام نقدی را در اختیار کشور متقاضی قرار نمی دهد بلکه برای پروژه های عمرانی وام می پردازد و یا هم وام های پروژه ای را تضمین می کند. همچنان این بانک خدمات متعددی را به کشور های عضو در عرصه های فنی کمک می نماید.

**تشکیلات بانک جهانی:**

تشکیلات بانک جهانی مانند صندوق بین المللی پول، متشکل از هیئت نمایندگان، هیئت مدیره و مدیر عامل می باشد. هیئت نمایندگان به عنوان مهمترین رکن تشکیلاتی و بالا ترین مرجع تصمیم گیری در بانک می باشند، هیئت مدیره به عنون بخش دیگری از ارکان اصلی تشکیلات این بانک بوده و بخاطر اجرای وظایف خود دارای اختیارات و قدرتی می باشد که از سوی هیئت نمایندگان برای شان تفویض شده است.

اعضای هیئت مدیره این بانک وظیفهٔ اش حفظ منافع کشور های متبوع خود و تصمیم گیری در مورد سیاستهای بانک و ارزیابی کامل پروژه های تولیدی و سرمایه گذاری های این بانک می باشد.

افغانستان عضویت این بانک را در سال ۱۹۵۵ میلادی کسب کرد، در سال ۱۹۷۹ میلادی بعد از تهاجم شوروی به افغانستان، فعالیت این بانک به حالت تعلیق درآمد، اما این بانک فعالیت های خود را در مورد افغانستان از طریق نمایندگی خود در پاکستان انجام می داد. بعداً فعالیت های این بانک در ماه می ۲۰۰۲ میلادی در افغانستان دو باره آغاز شد.

بانک جهانی از سال ۲۰۰۲ به این طرف در حدود ۵.۳ میلیارد دالر کمک کرده که قسمت بیشتر آن کمک های بلا عوض بوده و تا حال ۲۰ پروژهٔ زیر کار در افغانستان دارد. افغانستان خواهان رابطهٔ نیک و حسنه با بانک جهانی بوده و از این بانک می خواهد تا در بخش های یاد شده با افغانستان روابط بیشتر و خوبتر داشته باشد.

**عبدالحفیظ شاهین**


**منابع:**

۱- بانک جهانی / عنوان/ کتاب پول و ارز و بانکداری / http://poolvbank.blogfa.com

۲- بانک جهانی چیست و چگونه عمل می‌کند؟/ تاریخ نشر : ۲۸ / ۳/ ۱۴۰۰ / https://www.ibena.ir

۳- نگاهی به فعالیت بانک جهانی در افغانستان / تاریخ نشر: چهارشنبه ۲۲ میزان۱۳۸۸ / https://avapress.com/

# صادراتي وده اقتصادي څرخ په حرکت را ولي

په دې وروستیو کې داسې راپورونه خپاره شوي دي چې ښکاروي پاکستان هېواد ته د افغانستان د صادراتي توکو کچه د پخوا په پرتله لوړه شوې او په بدل کې یې له دې هېواد څخه د وارداتو کچه راټیټه شوې ده. دا د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره یو ښه خبر دی او تمه ده چې په هېواد کې نوی حاکم نظام به د صادراتي ودې لپاره تر بل هر وخت زیاته هڅه وکړي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د خپرو کړو معلوماتو پر بنسټ د افغانستان د صادراتو پراختیا په موخه د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق د هڅو په پایله کې، د افغانستان د جلغوزو ۴۵ټنه کارګو د هوايي دهلیز له لارې د کام ایر هوايي شرکت په مټ چین ته لېږدول شوي دي.

کله چې چین هېواد ته د هوايي دهلیزونو له لارې د سوداګریزو توکو د صادراتو لړۍ په نوي نظام کې بیا څلي پیل شوه د ریاست الوزرا دویم مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي له دې لارې د صادراتو پیل د خصوصي سکتور، د افغانستان د خلکو په ځانګړې توګه د پکتیا ولایت اوسیدونکو لپاره چې د افغاني پروسې له لارې چین ته صادرېږي، یوښه زیری وباله او د جلغوزو کلنی ارزښت یې شاوخوا یو ملیارد امریکايي ډالره په ګوته کړ.

بلخوا د افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي استازي محمد صادق خان د تورخم له لارې پاکستان ته د افغانستان د میوو صادراتو د زیاتوالي خبره کوي.

صادق خان پر خپلې ټویټر پاڼې د ستمبر د میاشتې له ۲۴مې تر ۳۰مې پورې د تورخم له لارې د صادراتو معلومات نشر کړي دي.

هغه ویلي دي چې د ستمبر د میاشتې په وروستۍ اونۍ کې۲۲۵۰ټرکونه له افغانستان څخه پاکستان ته صادر شوي دي او په مقابل کې۱۱۵۱ټرکونه اجناس

»



له پاکستان څخه افغانستان ته صادر شوي دي. پاکستان او چين هغه هېوادونه دي چې د نوي نظام په راتګ سره د افغانستان له خاوري زيات صادرات ورته کيږي.

تمه ده چې د افغانستان د سوداګريزو توکو د صادراتو دا لړۍ به د نړۍ زيات شمېر هېوادونو ته وغځيږي او د هېواد د صادراتو او وارداتو په کسر کې به بدلون رامنځته شي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ دا مهال د افغانستان د صادراتو او وارداتو کسر ۹۰/۱۰ دی يعنې يوازې لس سلنه صادرات او ۹۰ سلنه واردات لري.

د دې کسر د مساوي کولو لپاره ډېر وخت او کار ته اړتيا ده چې افغانستان يې تر سره کړي. افغانستان چې يو کرنيز هېواد دی که په دې برخه د بزګرانو او پانګوالو لپاره آسانتياوې رامنځته شي د دې تمه شته چې افغانستان به ډېر ژر له وارداتي په صادراتي هېواد بدل شي.

د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د هر ډول کرنيزو محصولاتو د توليد وړتيا شتون لري او که د ولايتونو اوبو او هوا ته په کتلو سره په اړوندو کرنيزو برخو کې د ولايتونو په کچه پانګه‌اچونه تر سره شي، له دې سره به نه يوازې دا چې په کور د ننه خلکو ته د کار روزګار زمينه برابره شي، بلکې په کور دننه به د توليد کچه هم لوړه شي او نورو هېوادونو ته به صادرات ولرو. د بېلګې په توګه د افغانستان د زعفرانو، جلغوزيو، تازه او وچو مېوو، طبي بوټو او نورو څخه يادونه کولای شو.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ د افغانستان جلغوزي په کلني ډول تر يو ميليارد زيات عوايد هېواد ته راوړلی شي دا د افغانستان لپاره يو ښه خبر دی او کولای شي د افغانستان په اقتصادي رغښت کې د ارزښت وړ رول تر سره کړي.

همدارنګه د افغانستان زعفران د نړۍ په کچه د غوره ذايقې او رنګ لرونکو زعفرانو له ډلې دي. که په دې برخه کې پانګه اچونه زياته شي او دې برخې ته پاملرنه وشي افغانستان به وکولای شي چې له دې لارې هم د نړۍ لويو هېوادونو ته صادرات ولري او له دې لارې به په لوړه کچه اسعار تر لاسه شي.

طبي بوټي هغه څه دي چې د افغانستان په خاوره کې ښه حاصل ورکوي، افغانستان په کلني ډول له دې لارې چې بهرنيو هېوادونو ته يې صادروي په ډېر عوايد تر لاسه کوي، دا چې هېواد کې نوی نظام حاکم شوی دی تمه ده چې دې برخې ته به پاملرنه زياته شي، څو له دې لارې د تېر په پرتله د عوايدو په کچه کې زياتوالی راشي.

بلخوا د افغانستان وچې او تازه مېوې د نړۍ په مارکېټونو ښه نوم او زيات پېرودونکي لري. بايد ووېل شي چې افغانستان ته له دې لارې هم په کلني ډول يوه زياته کچه اسعار راځي. دې برخې ته پاملرنه او پراختيا يې د هېواد د اقتصادي څرخ د خوځښت لامل کېږي او اقتصادي وده رامنځته کوي.

همدارنګه د افغانستان ډېر نور توليدي توکي شته بهرنيو هېوادونو ته صادرات يې په کلني ډول دې هېواد ته د زياتې کچې عوايدو د راتګ لامل کېږي. افغانستان چې يو غرنی هېواد دی او د دې هېواد په ډېری سيمو کې کانونه موجود دي او کاني مواد يې ټول پر ځای پاتې دي که په دې برخه کې پانګه اچونه وشي او بهرنيو هېوادونو ته د دې لابې وشي چې په دې برخه کې پانګې اچونې تر سره کړي ليرې نه ده چې افغانستان به لوی صادراتي هېواد بدل شي.

د افغانستان د صادراتي او وارداتي کسر کې د توپير د له منځه وړلو لپاره ډېرې لارې چارې شته چې پر پلي کېدو سره به يې دا هېواد د نړۍ نورو هېوادونو ته له احتياج خلاص او د پرمختللو هېوادونو په کتار کې به ځای ولري. •

حسيب الله نوري/ د افغانستان بانک د خپرونو د څانګې لوی آفيسر

سرچينې:

د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

د افغانستان زعفران | د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ((mail.gov.af

زعفران افغانستان در جهان اول شد

زعفران افغانستان در جهان اول شد | ايندپيندنت فارسی ((independentpersian.com

# اقتصادي خبرونه

**ستانکزی: انجماد دارایی های افغانستان بر مردم تاثیر می‌گذارد نه بر طالبان**

مقامات بلند پایهٔ حکومت ۲۷ قوس برای مبارزه با بحران اقتصادی روز افزون خواهان کمک‌های بین المللی شدند.

شیر محمد عباس ستانکزی، معاون وزارت خارجهٔ در نشستی که به مناسبت روز بین المللی مهاجرت ملل متحد برگزار شده بود گفت که مسوولیت بحران اقتصادی و هراس از مهاجرت های دسته‌جمعی افغانستان به ایالات متحده برمی‌گردد؛ کشوری که میلیاردها دالر دارایی بانک مرکزی افغانستان را راکد کرده است.

این مقام در خطاب به نمایندگان سازمان بین المللی مهاجرت، کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان و سازمان مهاجرین ملل متحد گفت که این انجماد بر طالبان نه بلکه بر مردم عام تاثیر می‌گذارد.

ادرات ملل متحد تخمین کرده اند که میلیون ها افغان در جریان فصل زمستان به کمک‌های فوری نیاز خواهند داشت؛ کمک‌های که به دلیل عدم تمایل کشورهای جهان برای تعامل مستقیم با طالبان و قسماً روی نگرانی‌ها پیرامون حقوق زنان و تشکیل حکومت همه‌شمول، متوقف شده است.

عباس ستانکزی افزود که اگر وضعیت سیاسی و اقتصادی تغییر نکند، مهاجرت های بیشتری صورت خواهد گرفت.در این حال، تامس وست، نمایندهٔ ویژهٔ ایالات متحده امریکا برای افغانستان می گوید که دیپلوماسی واشنگتن در قبال حکومت افغانستان واضح بوده، اما افزوده است که رسیدگی به مردم افغانستان در محراق توجهٔ همه قرار خواهد داشت.

**ملګرو ملتونو افغانستان سره د ۴ نیم میلیارده ډالرو کلنی مرستي غوښتنه وکړه**

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال مارټین ګریفیت ویلي، راتلونکی کال به افغانستان سره د ۴ نیم میلیارده ډالرو کلنی مرستي غوښتنه کوي.

نوموړي دا خرګندوني پنجشنبه اسلام اباد کې د افغانستان په اړه د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو فوق العاده غونډې ته کړې دي.

ښاغلي ګریفیت یادي غونډې ته وویل، دا به د ملګرو ملتونو لخوا له یو هېواد سره د بشري مرستو لپاره د تر ټولي لویې مرستې غوښتنه وي، او افغانستان له خلکو سره به د اړینو مرستو لپاره لګول کیږي.

نوموړي وویل، پکار ده چې په افغانستان کې نه یوازې وګړي او بانکونه نغدو پیسو ته لاسرسی ولري، بلکې د نړیوالو مرستندویه ادارو د چارو لپاره هم دا سهولت اړین دی.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال خپرو خبرو کې وویل، که دا مرستې ژر تر ژره افغانستان ته ونه رسیږي نو وېره شته چې د دې هېواد »



اقتصاد سقوط وکړي.

ملګرو ملتونو همدا راز ویلي چې د راتلونکي کال تر نیمايي ښايي په افغانستان کې د وګړي سر عواید دېرش سلنه کم شي او د بېکارۍ کچه ښايي ۲۹ سلنو ته ورسېږي.

اسلام اباد کې د افغانستان د وضعیت په اړه د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو دې فوق العاده غونډه کې د ملګرو ملتونو، نړیوالو مالي ادارو، د امریکا، بریتانیا، فرانسې، چین، روسیې، المان، جاپان او د اروپايي ټولنې استازو ګډون کړی دی. په افغانستان کې د طالبانو د حکومت استازو ته هم دې ناسته کې د ګډون بلنه ورکړل شوې او د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي پنجشنبه یادې ناستې ته وینا هم وکړه.

نوموړي وویل، له لسیزو وروسته افغانستان کې بشپړ امنیت تامین شوی او نړیوالو ته یې ډاډ ورکړ چې په ډاډه زړه کولی شي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

دې ناستې ته همدا راز د پاکستان لومړي وزیر عمران خان او د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي، د سعودي عربستان او ترکیې د بهرنیو چارو وزیران او د اسلامي همکاریو سازمان سکرتر جنرال ویناوې وکړې.

ګڼو مشرانو په خپلو خبرو کې خبرداری ورکړ چې افغانستان له بشري او اقتصادي بحران سره مخ دی او نړیواله ټولنه یې د مخنیوي لپاره د سیاست پر ځای له طالبانو سره تعامل وکړي.

سرچینې:

۱- منبع: صدای امریکا / ستانکزی: انجماد دارایی‌های افغانستان بر مردم تاثیر می‌گذارد نه بر طالبان(darivoa.com)

۲- بي بي سي پښتو / ملګرو ملتونو افغانستان سره د ۴ نیم میلیارده ډالرو کلنې مرستې غوښتنه وکړه BBC News - پښتو





# نقش معادن در اقتصاد کشور

معادن در اقتصاد افغانستان یکی از محرک های مهم اقتصادی بوده و جایگاه اساسی را در زنجیرۀ تأمین منابع مورد نیاز این کشور دارد. افغانستان در میان سایر کشور های جهان، کشوری است که از لحاظ منابع سطحی و زیر زمینی در جایگاه بسیار خوبی قرار داشته و تا حال دست نخورده باقی مانده است.

روی همین ملحوظ، این صنعت، نقش اساسی را در توسعۀ آیندۀ اقتصادی افغانستان دارد. اگر با برنامه ریزی دقیق و مُدرن روی آن کار صورت گیرد، در افزایش تولید ناخالص ملی و عاید سرانه کشور ایجاد شغل، خود کفایی صنعتی نقش بسزایی داشته و می تواند عامل مهم رشد اقتصادی کشور ما گردد.

بر اساس گزارش وال ستریت، منابع معدنی و ذخایر تحت الارضی مانند، گاز، نفت، زغال سنگ، طلا، نقره، مس، یورانیوم، آهن خام و غیره به عنوان پایه های اصلی اقتصاد یک کشور یاد شده و به عنوان شاخص های ثروت در نظر گرفته می شود.

معادن در بخش های صادرات، مالیات،

»

سرمایه گذاری های خارجی و درآمد ملی کشورما در آینده سهم بسزایی دارند. مهمترین ذخایر معدن آهنی افغانستان، عبارت اند از آهن، سرب، مس، کروم، طلا، اورانیوم، المونیوم، پلاتین، نقره، جیوه و غیره است در حالیکه، معادن غیر فلزی افغانستان را زغال سنگ، گچ، گوگرد، گرافیت، نمک ، تالک، کوارتز و غیره تشکیل می دهد.

افغانستان، سنگ های قیمتی مانند زمرد، یاقوت، اسپودومین، تورمالین، لاجورد، لعل و غیره را نیز دارد که در ساختن جواهرات از آنها استفاده بعمل می آید. تا حال، در مورد معادن افغانستان تحقیقات کامل و همه جانبه صورت نگرفته، بسیاری از معدن بشکل کشف ناشده و بکر باقی مانده است. در صورتیکه در این زمینه سرمایه گذاری بیشتر انجام یابد، اقتصاد افغانستان متحول شده و بسوی جامعه پیشرفته حرکت خواهد کرد. تا حال، مهمترین موانع در استخراج معادن و بهره برداری از آنها، کمبود سرمایه و عدم موجودیت تکنالوژی جدید می باشد.

یکی از راه های انکشاف و استخراج معادن افغانستان، جذب سرمایه گذاران خارجی در این عرصه بوده و در کنار آن باید سکتور خصوصی داخلی نیز تقویه گردد. در این عرصه اگر سکتور داخلی متعهدانه عمل کنند در آیندۀ نزدیک، روند اقتصادی را بطرف رشد اقتصادی تغییر خواهد داد. بررسی ها نشان میدهد که در دسترس بودن بعضی فلزات مانند مس، سرب، سنگ آهن و سایر فلزات گرانبها از جمله شاخص های نو ظهور است که نیاز مبرم بازار بوده و استخراج آنها ضرورت به هزینۀ تولید و مدیریت فنی مالی دارد.

بخش معدن به ویژه صنایع کوچک معدنی، می تواند برای جذب نقدینگی و سرمایۀ سرگردان در داخل یک کشور مورد استفاده قرار گرفته و ایجاد اشتغال کند.

استخراج معادن در حقیقت به تکنالوژی پیشرفته نیاز دارد و سهم مستقیمی در تولید ناخالص داخلی کشور ها دارد، اما متاسفانه افغانستان از تکنالوژی پیشرفته استخراج معادن محروم می باشد که این امر باعث می شود تا این کشور در این عرصه پیشرفت قابل توجهی نداشته باشد.

معادن سهم قابل توجهی در ایجاد فُرصت های شغلی، کاهش فقر و بیکاری نیز دارد. از طریق ایجاد اشتغال مستقیم در این بخش نه تنها درآمد خانوار ها را افزایش می دهد، بلکه بطور غیر مستقیم در بخش های حمل و نقل، مسکن، صنایع غذایی و غیره نیز تأثیر گزار است و اشتغال را افزایش می دهد.

فعالیت در معادن در مناطق با درآمد پایین از اهمیت ویژۀ برخوردار بوده و مثبت ترین موارد آن رشد فعالیت های شرکت های کوچک محلی بوده که باعث اشتغال پایدار و متوازن برای افراد بومی می گردد. بر اساس آمار بخش معادن بانک جهانی، استخراج معادن در یک کشور امکان اشتغال مستقیم و غیر مستقیم را برای ۲ میلیون کارگر در بخش های مانند ترانسپورت، زراعت، تعلیم و تربیه، توریزم، بانکداری و غیره فراهم می کند.

افغانستان از ذخایر ارزشمند و مواد معدنی مختلف بهره مند است، اما فقدان ثبات سیاسی و اقتصادی باعث شده تا این کشور نتواند از این پوتنسیل های قوی برای توسعه و رفاه خود استفاده نماید. در زیر ساخت های بخش های مختلف معادن ثبات و امنیت مهم ترین و اساسی ترین شرط سرمایه گذاری خارجی محسوب می گردد.

بناءً افغانستان می تواند با فراهم کردن

»

زمینه های لازم برای جذب سرمایه گذاری های خارجی، زمینهٔ رشد اقتصادی و افزایش اشتغال را فراهم سازد، مهمترین پیش نیاز های حضور سرمایه گذاران داخلی و خارجی می تواند از طریق انتقال علوم و تکنالوژی های نوین و روش های پیشرفته منجر به بهبود بهره وری از بخش معدن گردد، همچنان یکی از پیش شرط های سرمایه گذاران داخلی و خارجی در این بخش، اصلاح چارچوب قانون سرمایه گذاری است.

همچنان، در شرایط کنونی تجربه نشان داده است که در کشور های جهان سوم، رشد و توسعهٔ اقتصادی از آدرس دولت ها و حکومت ها امکان پذیر می باشد. زیرا دولت ها، ابزار ایدولوژیک، آگاهی و قدرت اعتماد ملت ها را نسبت به سکتور های خصوصی در دست دارند. در کشور ما نیز این نظریهٔ اقتصادی جایگاه خاص خود را دارد. دولت میتواند شرکت های کلان اقتصادی را برای استخراج معادن تشویق کند. پرداختن به این امر یکی از راهبرد های کلان ملی به حساب آمده و به زیر ساخت های اقتصادی در این عرصه توجه صورت می گیرد.

دولت در این عرصه، به هراندازه به حل مشکلات اقتصادی توجه جدی نماید به همان اندازه تنش های داخلی و خارجی کاهش یافته و مسایل سیاسی به خوبی مدیریت می گردد. این کاری است که قبلاً کشور های مانند امریکا، جاپان و جرمنی نیز انجام داده اند.

در افغانستان متاسفانه نبود ثبات سیاسی، اقتصادی و تداوم جنگ در دهه های اخیر سبب شده تا این کشور نتواند از معادن خود برای تولید ثروت و رفاه خود استفاده نماید.

برخی کارشناسان معتقد اند که با تسلط حکومت امارت اسلامی بر افغانستان، زمینهٔ سرمایه گذاری خارجی بخاطر استخراج معادن فراهم شده است.

در این عرصه از بهترین شرکت های صنعتی استفاده بعمل آید و پروژه استخراج معدن به شرکت های بزرگ صنعتی واگزار شود. قرارداد ها باید کاملاً شفاف بوده و در آن منافع ملی در نظر گرفته شود تا نسل های آینده نیز در این عرصه متضرر نگردند.

در استخراج و پروسس معدن، باید پروسه ها شفاف و مشخص باشد، شفافیت هیچ گونه مغایرت با سیستم بازار ندارد. در مقابل نبود شفافیت می تواند فجایع زیادی را ببار آورد. عدم شفافیت در این عرصه، فساد اداری، عدم مراعات کردن منافع ملی، برخورد های شخصی و معامله های پنهانی با خارجی ها و کمپنی ها را به وجود می آورد.

عبدالحفیظ شاهین

---


معادن افغانستان و آینده رشد اقتصادی این کشور – ایندیپندنت / ... › https://www.independentpersian.com

معادن و منابع هزارمیلیارد دلاری افغانستان در دست طالبان – تاریخ نشر: ۲۸ / ۴/ ۱۴۰۰ / https://www.dw.com

عنوان/ بیم ها و امیدهایی که با معادن افغانستان گره خورده –تاریخ نشر / ۲۵ جوزای / ۱۳۹۸ / https://www.bbc.com › 2010/06

آینده‌ای در انتظار اقتصاد افغانستان است؟ / تاریخ نشر / ۲۶ اسد ۱۴۰۰BBC News فارسی / https://www.bbc.com-persion

عنوان/ وزارت معادن و پطرولیم: ۶۸ معدن به داوطلبی سپرده می‌شوند/ تاریخ نشر / ۱/جدی /۱۳۹۹ / https://da.azadiradio.com

# د هیواد د بانکي سکتور په تړاو د افغانستان بانک خبرتیا

څرنګه چې ګران هیوادوال په جریان کې دي، سوداګریز بانکونه په ټولیزه توګه فعال او د بانکي خدمتونو په وړاندې کولو بوخت دي او د نقدینه ګۍ د وضعیت د ښه والي پر بنسټ انفرادي مشتریانو ته د نغدو پیسو ورکړه زیاته شوې او د شرکتي حسابونو په برخه کې هم د افغانستان بانک د لازم لیدو په صورت کې د هغوی د پولي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته شوي دي.

حال دا چې په دې وروستیو کې د ټولنیزو شبکو له لارې ځینې بې بنسټه آوازې خپرېږي څو بانکي سکتور ته زیان ورسوي.

په همدې موخه د بانکونو ټولو مشتریانو او ګرانو هیوادوالو ته ډاډ ورکول کېږي چې د هیواد بانکي سکتور فعال او د خلکو په خدمت کې دی او په بانکونو کې د امانت اېښودونکي امانتونه خوندي دي. همدا ډول د افغانستان بانک په منظمه توګه د سوداګریزو بانکونو د کړنو او اجرااتو څارنه کوي او د بانکوالۍ د ودې او عادي حالت ته د هغه د بیرته راوستلو په برخه کې هڅه او کوښښ کوي او هیوادوالو ته ډاډ ورکوي چې ډېر ژر به د هیواد بانکي سکتور د تیر په څیر عادي حالت ته راوګرځي.


# اطلاعیه د افغانستان بانک در پیوند با سکتور بانکی کشور

چنانچه هموطنان عزیز در جریان قرار دارند، بانک های تجارتی بصورت مجموعی بشکل فعال بـه عرضه خدمات بـانکی پرداخته و بنابر بهبود وضعیت نقدینگی پرداخت پول نقد به مشتریان انفرادی اخیراً افزایش یافته و در قسمت حسـاب های شرکتی نیز حسب لزوم دید د افغانستان بانک تسهیلات بیشتر جهت رفع نیازمندی های پولی آنها فراهم میگردد.

این در حالیست که اخیراً شایعات بی مورد از طریق شبکه های اجتماعی به نشر میرسد تا سکتور بانکی را صدمه بزنند.

بدینوسیله به تمام مشتریان بانکها و هموطنان عزیز اطمینان داده می شود که سکتور بانکی کشـور عملاً فعال و در خدمت مردم قرار داشته و سپرده های امانت گذاران نزد بانکها مصئون می باشد. همچنان د افغانستان بـانک از روند فعالیت و اجراات بانکهای تجارتی به صورت منظم نظارت و بررسی نموده و در رشد بانکداری و دوباره برگشت آن به حـالت عادی سعی و تلاش به خرج داده و اطمینان میدهد که بزودترین فرصت سکتور بانکی کشـور همانند گذشـته بـه حـالت عادی برگردد.






# د ټاپي پروژه؛ اقتصادي ګټې او فرصتونه

ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان ترمنځ د ټاپي په نوم د پروژې په اړه په لومړیځل۲۵ کاله وړاندې فکر او نظر رامنځ ته شوی وو، خو د ځینو تخنیکي، سیاسي او امنیتي ستونزو له امله دغازو د نل‌لیکې په دې پروژې د عملي کار پرانستلو لړۍ تر ډېرو کلونو ځنډېدلې وه.

د ټاپي پروژه په ۲۰۱۶ کال کې د څلورو شاملو هېوادونو، افغانستان، ترکمنستان، پاکستان او هند د ولسمشرانو له لوري پرانیستل شوه.د دغې پروژې عملي کار په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې په افغانستان کې پیل شو، خو د امنیتي او تخنیکي مسایلو له امله د هغه کار ودرول شو.

معلومات ښيي چې د دغې پروژېد کار د پیل لپاره په ۱۹۹۷ زیږدیز کال کې د افغانستان د اسلامي امارت د حکومت پر مهال هلې ځلې پیل شوې وې. مولوي وکیل احمد متوکل چې هغه مهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر و د ټاپي اړوند ځینو مذاکراتو کې یې ګډون هم کړی ؤ.

څو ورځې وړاندې د ترکمنستان هېواد د بهرنیو چارو وزارت یو لوړ رتبه پلاوی په همدې تړاو افغانستان ته راغلی ؤ. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست امیر خان متقي په کابل کې د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر رشید مردوف سره په خبري ناسته کې وویل چې کابل ته د ترکمنستان پلاوي په دوه ورځني سفر کې، پر مهمو اقتصادي مسایلو په ځانګړې توګه د ټاپي پروژې او د اوسپنې پټلۍ او برېښنا په هکله خبرې اترې شوې دي.د متقي په وینا،ټاکل شوې ده چې د ټاپي پروژې کار ډېر ژر په افغانستان کې بېرته پیل شي.

دا پروژه د افغانستان او ترکمنستان څخه د څو کمپنیو لخوا پلې کیږي او همداراز افغانستان د ګازو تصدي د ترکمنستان دولتي ګازو شرکت او له افغانستان څخه دوه خصوصي شرکتونه په کې ګډون لري.

د ټاپي ګازو پایپ‌لاین ۱۸۰۰کیلومتره واټن ولري، چې له ترکمنستان څخه د افغانستان او پاکستان له لارې هند ته لیږدول

»

کېږي.د دې نل‌لیکې ۱۴۷کیلومتره به د ترکمنستان په خاوره کې او ۷۳۵ کیلومتره به یې د افغانستان کې چې له هرات، فراه، هلمند او کندهار ولایتونو تېرېږي او ترڅنګ یې ۸۰۰ کیلو مترو په اوږدوالي له پاکستان څخه لېږدول کېږي.

د هرات کندهار د لویې لارې ترڅنګ د نل‌لیکې له تېرېدو سره به د پاکستان د کوټې او ملتان له ښارونو تېره شي او په پای کې به د هند فازیلیکا ته ورسیږي. د دې پروژې ټول لګښت ۲۲ میلیارډه او ۵۰۰ میلیونه ډالره ښودل شوی دی.

دا پروژه د افغانستان او ترکمنستان څخه د څو کمپنیو لخوا پلې کېږي او همداراز افغانستان د ګازو تصدي د ترکمنستان دولتي ګازو شرکت او له افغانستان څخه دوه خصوصي شرکتونه په کې ګډون لري.

افغانستان به د دې پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰ میلیون ډالره د ترانزیت، او کله چې د ټاپي پروژه بشپړه شوه، نو تر لسو کلونو۵۰۰ میلیونه مترمکعبه ګاز او تر شلو کلونو پورې به یو میلیارډ مترمکعب کاز ترلاسه کوي.د لومړنیو څېړنو او شمېرو له مخې د ټاپي ګازو پایپ‌لاین به هر کال ۳۳ میلیارده مترمکعب ګاز لیږدوي.

ټاکل شوې ده چې د ټاپي پروژې ترڅنګ یو شمېر نور وړې او لویې پروژې هم پلې شي. د دې پروژې بله برخه هم د ۵۰۰کیلوواټ بریښنا لېږد ده چې له ترکمنستان څخه د افغانستان او پاکستان ته لیږدول کېږي. د دې ترڅنګ په سیمه کې به د نوري فایبر مزی هم ولیږدل شي او دا به ګاونډي هېوادونه سره ونښلوي.

د ټاپي ترڅنګ بله پروژه له ترکمنستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د اورګاډي پټلۍ لېږد. تر څنګ یې ویل کېږي چې دافغانستان تورغنډۍ د اورګاډي پټلۍ چې ۱۳ کیلومتره واټن لري د ۱۰ میلیون ډالرو په ارزښت به د ترکمنستان له لارې ورغول شي.

**د ټاپي سیمه‌اییز اغېز**

دټاپي پروژه نه یوازې افغانستان بلکې د سیمې ټول هېوادونه له اقتصادي ګټو برخمن کوي. ترکمنستان اوس مهال ۳۵ میلیارده متره مکعب غاز په چین پلوري خو چین دغه غاز له ترکمنستان نه په ټیټه بیه اخلي، له همدې امله تر کمنستان غواړي پر چین تکیه کمه کړي چې وکولی شي خپل غاز په مناسبه بیه وپلوري. هغه سیمې چې دا نل لیکه به ورڅخه تېرېږي هلته به کاروبار وغوړیږي؛ هټۍ، هوټلو نه او بازارونه به جوړ شي، ډېرځایي وګړي به د نل‌لیکی د ساتنې په موخه په دندو وګمارل شي او ډېر خلک به په بېلابېلو دندو کې مصروف شي.

افغان مسلکي کارکوونکي به د عصري مدیریت زده کړو فرصت ترلاسه کړي. پاکستان هم د دې پروژې نه اقتصادي ګټه پورته کوي. دغه هېواد به له هند نه هر کال سلګونه میلیونه ډالره د ټرانزیټي فیس په توګه ترلاسه کوي. د دې ترڅنګ په هغو سیمو کې چې دغه نل لیکه تېرېږي خلکو ته د کار زمینه هم پیداکړل شي، ددې نه علاوه پاکستان به د غازو نه هم برخمن کېږي. •

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

---


سرچینې:

د ټاپي پروژې اقتصادي ګټې او ننګونې

https://www.bbc.com/pashto/world/2015/12/151216_importance_tapi_region_iy

د ټاپي پروژه؛ له کومه تر کومه

د ټاپي پروژه؛ له کومه تر کومه | طلوع‌نیوز ((tolonews.com

د ټاپي پروژه: له مولوي وکیل احمد متوکل سره د نن ټکي اسیاځانګړې مرکه/ عبد الله/ فبروري 23، 2018

د ټاپي پروژه: له مولوي وکیل احمد متوکل سره د نن ټکي اسیا ځانګړې مرکه ((nunn.asia

متقي: افغانستان کې د ټاپي پروژې کار به ډېر ژر بېرته پیل شي/ رجب – طیب،شنبه۹ لړم۱۴۰۰

https://tolonews.com/pa/afghanistan-175243




# مختصری پیرامون علم اقتصاد

اقتصاد عبارت از علمی است که کشور ها، دولت ها و شرکت ها را مورد بر رسی قرار می دهد که چگونه از امکانات محدود موجود در طبیعت به تولید کالا و خدمات برای خواسته های نامحدود بشریت اقدام می نماید.

روی همین علت کشور ها، دولت ها و شرکت ها بخاطر رسیدن به اهداف شان از علم اقتصاد کمک می گیرند و در ذیل از بخش ها و موارد مختلف اقتصاد بطور خلاصه یاد آوری بعمل می آید.

**انواع اقتصاد**

اقتصاد خرد: در اقتصاد خرد رفتار های عقلانی انسان ها شناسایی می گردد و به تعقیب آن انسان ها و شرکت های اقتصادی کوشش می کنند که بیشترین استفاده از منابع موجود را در بخش های عرضه، تقاضا، مصارف، بازار، تولید و غیره را نموده و آنها را به حالت تعادل نگاه دارند.

اقتصاد کلان: در اقتصاد کلان، روی

»

مسایل کلان اقتصادی، نظیر ثبات اقتصادی، توازن تراز تجارتی، رشد اقتصادی، رکود اقتصادی، بحران اقتصادی، بیکاری، فقر، رشد اقتصادی، توسعه اقتصادی، اشتغال، تورم، مخارج و درآمد دولت و غیره در سطح کشور تبادل نظر صورت می گیرد.

اقتصاد توسعه: کشور های مختلف جهان نمی توانند با پیروی از یک میتود اقتصادی، اقتصاد کشور های شان را رهبری کنند. اقتصاد بسا کشور ها، با جهت گیری های متفاوت عقیدتی و فرهنگی خیلی پیچیده می باشد. اقتصاد توسعه علاوه بر اینکه به کالای تولیدی منابع کمیاب و رشد پی در پی در طول زمان می پردازد، با میکانیزم های اجتماعی نیز سرو کار دارد.

اقتصاد ملی: عبارت از مجموع ساحات تولیدی و منابع آن است که بیشتر شامل صنایع ساختمانی، سیستم پولی، ترانسپورت، زراعت و غیره میگردد. تا قرن ۱۹ آنچه بیشتر مورد توجه بود عبارت از زمین و مستغلات بود، اما بعد از انقلاب صنعتی اروپا منابع طبیعی نیز مورد توجه اقتصاد دانان قرار گرفت. تا آخر قرن بیستم اقتصاد دانان به فکر پایان پذیر بودن منابع نیز نبودند. اما حالا بیشتر روی کاهش و پایان پذیر بودن منابع، توجه بیشتر صورت می گیرد. زیرا منابع مانند نفت و گاز و غیره پایان پذیر است.

اقتصاد انرژی: موضوع انرژی امروز در جهان یک عامل عمدهٔ راهبردی بوده و اغلب کشور ها بخاطر انرژی به دنبال اعمال قدرت خود بر سایر کشور ها می باشند.

اقتصاد زراعتی: اقتصاد زراعتی عبارت از کاربرد اصول و نظریه های اقتصاد عمومی در مورد تولید، توزیع، مبادله و توزیع مواد غذایی و سایر مواد مورد ضرورت دهاقین می باشد.

بناءً می توان گفت که اقتصاد زراعتی عبارت از چگونگی استفاده مطلوب از منابع طبیعی در بخش های مختلف زراعت، تربیت نیرو های متخصص که بتواند با تکیه بر دانش و اندوخته های علمی و تجارب علمی خود به عنوان کار شناس زراعتی به تهیه و تدوین طرح های توسعهٔ زراعتی بپردازند.

اقتصاد حمل و نقل: هدف از اقتصاد حمل و نقل عبارت از بر رسی نظریه های گوناگون در زمینه های مختلف حمل و نقل و توسعهٔ اقتصادی است. در این سیستم حمل و نقل زمینی، دریایی، هوایی، لوله های نفتی و گازی مورد بر رسی قرار میگیرد.

اقتصاد صحی: در اقتصاد صحی، مراقبتهای بهداشتی، و استفاده از ابزارهای مهم اقتصادی در مسایل مرتبط با صحت و مراقبت های صحی است.

اقتصاد محیط زیست: هنگامی که جریانات مواد و ضایعات از ظرفیت های واقعی محیط زیست تجاوز کند، ظرفیت های محیط زیستی کاهش پیدا می کند و در این اثناء ذخایر پایان پذیر به سرعت تمام می شود و احتمال انقراض آنها افزایش می یابد.

عبدالحفیظ شاهین

**منابع:**


۱–عنوان/ همه چیز در باره اقتصاد کلان و کتاب شناسی – تحلیل اقتصادی/ تاریخ نشر : ۲۲ / ۲/ ۱۳۹۸ https://tahlileghtesadi.com

۲– اقتصاد چند نوع است؟ / تاریخ نشر / ۲۲ / ۲/۱۳۹۸ https://www.eghtesadonline.com

۳– تفاوت اقتصاد کلان و خرد چیست؟/ تاریخ نشر : ۲۲/۷/ ۱۴۰۰ ttps://blog.faradars.org

# مالي برنامه ریزۍ ته لنډه کتنه

دا چې نړۍ له پیدایښت تر دې مهاله د مالي چارو سره مستقیمه اړیکه لري او د هرې ورځې په تېرېدو سره یې ارزښت زیاتېږي په کار ده چې هر څوک مالي پوهه ولري. په دې مقاله کې په لاندې ډول داسې لارې چارې ښودل شوې دي چې له هغې په ګټې اخیستنې سره مو مالي هوش زیاتېږي او په مالي برخه کې ستاسو د بریا لامل کېږي.

**له خپل وخت مناسبه ګټه پورته کړئ:** هغه ذهنونه چې په مالي پوهه سمبال وي،تل د خپل ژوند په اړه د مسئولیت حس کوي. دوی خپلو موخو ته د رسېدو او خپلو پیسو د لګولو لپاره له بېلابېلو برنامو ګټه پورته کوي.

**مالي فکر مو بدل کړئ:** د دې لپاره چې مالي پوهه مو لوړه شي او په مالي چارو کې د بریالیتوب حس وکړو، اړینه ده چې خپل فکر ته مو بدلون ورکړو. که موږ تل په دې فکر وکړو چې څرنګه کولای شو، څو خپل لګښتونه را کم کړو دا چاره زموږ د مالي پوهې د ټیټې پاتې کېدو لامل کېږي، خو هغه وخت چې په دې فکر کوو چې څنګه کولای شو زیاتې پیسې تر لاسه کړو زموږ مالي پوهه لوړېږي او داسې پرېکړې کوو چې پر بنسټ یې فکر بدلون مومي.

**د ځان لپاره مالي لیدلوری وټاکئ:** لیدلوري شتون تاسو ته هیله او انګېزه درکوي. هر هغه څوک چې غواړي مالي بریا تر لاسه کړي، په کار ده چې دې بریا ته د رسېدو لپاره انګیزه ولري او هیله یې دا وي چې یوه ورځ به خپلې ټاکلې موخې ته رسېږي. د انګېزې د ساتنې لپاره په کار ده چې د بریا ټولې مرحلې د ټاکل شوي لیدلوري پر بنسټ مخته یوسئ.

**مالي موخه وټاکئ:** که تاسو مالي موخه ولرئ او دا موخه څرګنده وي له ټولو جزئیاتو سره یې په یو ځای کې ثبت کړئ او هېڅکله هم له هغې څخه مه لیرې کېږئ. د موخې په ټاکلو سره تاسو د دې وړتیا پیدا کوئ چې هېڅ وخت بې انګېزې نه شئ او تل یې لاره وڅارئ.

**اضافي او غیر ضروري پېرودنې ودروئ:** اضافي او غیر اړینو پېرودنو حذف کول تاسو هڅوي چې پر خپلو لګښتونو له سره غور وکړئ. په داسې شرایطو کې باید



تاسو په پوره هېښنتیا سره عمل وکړئ او په لګښتونو کې د لیدنې وړ سپما وکړئ. هغه پیسې چې تاسو سپما کړې دي، کولای شئ د نویو مهارتونو د زده کړو لپاره وکاروئ.

**له محدودیتونو او ویرو سره وجنګېږئ:** پلټونکي اوسېدل د مالي پوهې له مهارتونو شمېرل کېږي. دا ستاسو ذهن دی چې تاسو محدود ساتي. له محدودیتونو او ویرو سره مو مقابله وکړئ. اجازه مه ورکوئ چې هغه ستاسو د بریاوو په مقابل کې موانع جوړ کړي او ناکام مو کړي.

**پر موقع لګښت وکړئ:** د مالي پوهې لرونکو له نبو یوه هم دا ده چې پوهېږئ څه وخت د کوم شي لپاره لګښت وکړي. مناسبه بودجه‌بندي د مالي پوهې لرونکو کسانو له رازونو څخه شمېرل کېږي. بودجه‌بندي د سرچینو او لګښتونو تر منځ د همغږۍ له طرحې څخه ګڼل کېږي.که وتوانېږو چې خطرونه په فرصتونو بدل کړو، کولای شو ووایو چې د لوړې مالي پوهې لرونکي یو.

**له زده‌کړو لاس مه اخلئ:** د مالي پوهې د لرلو لپاره اړینه ده چې خپل د ضعف هغه ټکي پیدا کړئ او په دې پوه شئ چې له پیسو سره څنګه چلند کوئ؟ که مو چلند سم نه وي باید بدلون په کې رامنځته کړئ. پام مو وي دا زده کړئ چې له خپلو پیسو څنګه ګټه پورته کړئ او په ورځني ډول داسې پرېکړې وکړئ چې د مالي وضعیت د ښه‌والي لامل شي.

**له بریالیو کسانو بېلګه واخلئ:** د بریالیو انسانانو له بېلګو او ستراتیژیو ګټه اخیستنه کولای شي د مالي پوهې د لوړولو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي. بریالي کسان په ښه ډول پوهېږي چې له کومو لارو ګټه پورته کړي، څو ژر شتمن شي او ډېره ګټه وکړي. که تاسو هم غواړئ چې ژر شتمن شئ او مالي پوهه مو لوړه شي په مالي برخه کې د بریالیو کسانو له تجربو ګټه پورته کړئ.

**مثبتې کلمې له یاده مه باسئ:** تلقین په ژوند کې لوی اغېز لري، هڅه وکړئ تل مثبتې کلیمې وکاروئ. د دې چارې په تر سره کولو سره تاسو په دې باور پیدا کوئ چې ټاکلو موخو ته رسېدای شئ. د بېلګې په توګه تاسو کولای شئ د دې پر ځای چې ووایاست زه هېڅکله ماتې نه خورم کولای شئ دا جمله له ځان سره تکرار کړئ، زه حتما بریالی کېږم!

**د نوښت څواک ځان کې پیدا کړئ:** هغه دندې چې تاسو ته د نوښت او خیال اجازه نه درکوي، د پرمختګ لپاره زیات ځای نه لري. هڅه وکړئ چې تل د هغې پر څواکمنتیا کار وکړئ.

**که مو له دندې ناراضي یاست ترې لیرې شئ:** که له خپلې دندې سره مینه نه لرئ، له ځنډ پرته یې پرېږدئ او لاس ترې واخلئ. انرژي او وخت مو پر هغه دنده چې له هغې سره مینه نه لرئ، مه لګوئ. هغه دنده چې تاسو ورسره مینه لرئ کولای شي ستاسو د مالي پوهې په لوړولو کې مرسته وکړي. نو همدا اوس بسم الله کړئ او داسې دنده پیل کړئ چې له هغې سره مینه ولرئ.

**هر کار ته د ډېر عاید تر لاسه کولو په سترګه وګورئ:** د دې لپاره چې خپل اقتصادي وضعیت متحول کړئ. اړینه ده چې هرې موضوع ته له پراخ نظره وګورئ. تل په دې هڅه کې اوسئ چې څنګه کولای شئ زیات عاید ولرئ.

**ماشومانو ته مو سر له اوسه مالي پوهه ورکړئ:** که ستاسو اولادونه له ماشومتوبه دا زده کړي چې څنګه سپما او پانګه‌اچونه وکړي، په لویوالي کې به حتماً د ښې مالي پوهې لرونکي وي او کولای به شي چې په یو لوی او بریالي پانګه‌اچوونکي بدل شي.

ژباړه او را ټولونه
حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:

۱. ۱۴ راهکار برای افزایش هوش اقتصادی 14راهکار برای افزایش هوش اقتصادی | تفاوت هوش مالی و سواد مالی farasarmayeh.ir |
۲. 6 ways to improve your financial literacy6 ways to improve your financial literacy (athene.com)
۳. 10 Ways to Improve Your Financial Literacyhttps://www.allbusiness.com/10-ways-improve-financial-literacy-20577-1.html



# سپما
## پس انداز

پس انداز جزوی از برنامه های اقتصادی تعدادی از خانواده ها است. آن تعداد خانواده های که جهت پس انداز برنامه ریزی می کنند، با پول پس انداز شده می توانند تا مشکلات اقتصادی خود را تا جایی رفع نمایند و حتی از این پول سرمایه گذاری های کوچک را راه اندازی و از آن درآمدی بدست آورند.

در اصل پس انداز عبارت از مقدار پولی است که آنرا می توان از عواید روزانه و ماهانه خود جهت رفع ضروریات و مشکلات احتمالی بمیان آمده، جمع آوری و آنرا حین بی پولی هزینه ضروریات خود در آینده کرد.

از پول پس انداز می توان برای آینده آموزش فرزندان، حالات بیکاری، کمک به دیگران، توانمند سازی اقتصاد خانواده، حالات مریضی و اضطراری و غیره استفاده کرد.

پس برای تضمین آینده اقتصادی خود و خانواده های خود در مصارف روزمره خویش صرفه جویی نموده و بقیه پول صرفه جویی شده را پس انداز کنید تا به دیگران احتیاج نشوید.

سپما د یو شمېر کورنیو د اقتصادي برنامو یوه برخه ده. هغه کورنۍ چې د سپما لپاره برنامه جوړونه کوي، کولای شي د سپما شویو پیسو پر مټ خپلې اقتصادي ستونزې حل کړي او حتی کولای شي له دې لارې کوچنۍ پانګې اچونې تر سره کړي چې له دې درکه عاید ولري.

سپما هغه پیسې دي چې د ورځنیو او میاشتنیو عوایدو څخه د اړتیاوو د پوره کولو او احتمالي ستونزو د رفع کولو لپاره ټولېږي او د اړتیا پر مهال د لګښتونو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي.

د سپما له پیسو څخه کولای شو د اولادونو د زده کړو، بې روزګارۍ د ورځو، له نورو سره د مرستو، د کورنۍ د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو، ناروغۍ او بیړنیو حالاتو لپاره ګټه پورته کړو.

نو د دې لپاره چې په راتلونکې کې مو کورنۍ له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان نه شي په خپلو ورځنیو لګښتونو کې سپما وکړئ، څو بل چا ته مو لاس اوږد نه شي.


بیایید با استفاده از افغانی در معاملات
روزمره اقتصادی، به ثبات آن بیافزاییم!

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۳ قوس ۱۴۰۰

